# د افغـــــانستان اســــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۵ / رمضان المبارک /۱۴۴۵هـ، ق موافق ۲۵ / حوت/۱۴۰۲هـ،ش**

# د رمضان المبارک د میاشتې فضایل او اعمال

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ الْكَرِيمِ، وَعَلَى آلِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينَ، أَمَّا بَعْدُ: قَال اللّهُ سُبحَانَه وَ تَعَالَى:(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ). [البقرة: ۱۸۵]

الله جل جلاله د رمضان المبارک میاشت د کال په نورو میاشتو باندې بهتره او غوره ګرځولی ده چې دا ددې دلیل دی چې دا میاشت د الله تعالی په نزد لوی، فضیلت، عظمت او لوی مقام لري، چې د رمضان المبارک ځینې فضائل په لاندې ډول دي:

**۱- د رمضان المبارک په میاشت کې الله تعالی پر مسلمانانو روژه فرض کړې ده چې داسلام یو عظیم رکن دی.**

الله تعالی فرمایلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ} البقرة :(۱۸۳)

ترجمه:- ای مؤمنانو! فرض شوی ده پر تاسو روژه لکه څرنګه چې فرض شوی وه په هغو خلکو چې له تاسو مخکې تیر شوي دي ، ددې لپاره چې تقوا دار شـی. په متفق علیه حدیث شریف کې راځي د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې ماد ر سول الله صلی الله علیه و سلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل:( بُنِيَ الإِسْلامُ عَلَى خَمْسٍ : شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ ، وَإِقَامِ الصَّلاةِ ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ ، وَالْحَجِّ ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ). متفق علیه

ترجمه: اسلام په پنځو شیانو بنا دی چې یو یې شهادت د کلمې طیبې دی او بل یې د لمانځه اقامه کول دي او بل یې ورکول د زکات دي او بل یې حج دی او بل یې روژه د رمضان ده.

**۲- ر سول الله صلی الله علیه و سلم به د رمضان المبارک د میا شتې په راتللو سره خپلو صحابه کرامو ته زیری ورکولو او زیری په قدرمن او مبارک شي باندې ورکول کیږي. په حدیث شریف کې راځي:(عَن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاكُمْ رَمَضَانُ شَهْرٌ مُبَارَكٌ فَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْكُمْ صِيَامَهُ تُفْتَحُ فِيهِ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَتُغْلَقُ فِيهِ أَبْوَابُ الْجَحِيمِ وَتُغَلُّ فِيهِ مَرَدَةُ الشَّيَاطِينِ لِلَّهِ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ مَنْ حُرِمَ خَيْرَهَا فَقَدْ حُرِمَ). سنن النسائي (٤ /١٢٩)**

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل: راغله تاسـو ته رمضان ، دا مبارکه میاشته ده فرض کړې ده الله تعالی پرتاسو روژه ددې میاشتې ، په دې میاشت کې د اسمان دروازې برسیره کیږي او بندیږي په کې دروازې د جهنم او تړل کیږي په دې میاشت کې سرکشه شیطانان ، د الله تعالی په

دي میاشت کې یوه شپه ده چې د زرو میاشتو څخه غوره ده ، څوک چې ددې شپې له خیر څخه محروم شو ، نو بس محروم شو.

**۳**- الله تعالی قرآن کریم د رمضان المبارک په میاشت کې نازل کړی دی:(شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ) [الْبَقَرَةِ: ۱۸۵]

ترجمه:- د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی، چې د خلقو لپاره هدایت دی،او د هدایت او د فرقان (د حق او د باطل بېلوونکي)

او د لیلة القدر شپه هم د رمضان المبارک په میاشت کې ده، هغه شپه چې د زرو میاشتو څخه بهتره ده.(لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ. تَنَزَّلُ الْمَلائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ .سَلامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ) القدر: (۳-۵)

ترجمه:- د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده په دغه (شپه) کې (نور) ملایك او روح (جبریل) د خپل رب په حکم سره نازلېږي لپاره (د پوره کولو) د هر (مقرر شوي) کار(دغه شپه) سلامتیا ده، دغه (شپه) تر سبا ختلو پورې ده

او په متفق علیه حدیث شریف کې ددې شپې د فضیلت په اړه راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:(مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا؛ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ). متفق علیه.

ترجمه:- څوک چې د لیلة القدر په شپه قیام وکړي د ایمان په بنا او د ثواب په نیت وبه بښل شي ورته هغه چې مخکې تیر شوي دي دده له ګناهونو څخه.

**۴**- د رمضان المبارک میاشت د رحمت ، د مغفرت او له جهنم څخه د خلاصی میاشت ده. د رمضان المبارک میاشت هغه میاشت ده چې لومړۍ لسیزه یې درحمت ورځې دي او دوهمه لسیزه یې د مغفرت ورځې دي او آخري لسیزه یې د جهنم څخه د خلاصی او نجات ورځې دي. د یو حدیث په یوه برخه کې راځي: (وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ). صحیح ابن خزیمة ( ۲ /۹۱۱) . حضرت سلمان رضي الله عنه وایې چې بیا ر سول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ددی میاشتې لومړی برخه رحمت ده او منځنۍ برخه یې مغفرت ده او وروستی برخه یې د دوزخ داور نه خلاصون دی.

دا دګناهونو د مغفرت میاشت ده.په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صلی الله علیه و سلم- كَانَ يَقُولُ: الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ مَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ). صحیح مسلم (۱ /۱٤٤)

**۵**- د رمضان المبارک میاشت د دعاګانو د قبلیدو میاشته ده. الله تعالی د رمضان المبارک په میاشت کې د روژه دار مسلمان دعاء نه ردوي بلکې د روژه دار دعاګانې قبلوي.په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ الصَّائِمُ حَتَّى يُفْطِرَ وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ). سنن الترمذي

ترجمه:- دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:درې کسان دي چې نه رد کیږي د هغوی دعاء. یو روژه دار ترڅو چې روژه ماته کړي ، بل عادل امام او پاچا او بل د مظلوم بددعائي.

په یو بل حدیث کې راځي: (عن عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: لِلصَّائِمِ عِنْدَ فِطْرِهِ دَعْوَةٌ مَا تُرَدُّ). فضائل الأوقات للبيهقي (ص: ٣٠٠)

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دی هغه وایې ماد ر سول الله صلی الله علیه و سلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: د روژه دار لپاره په وخت د روژه ماتي کې دعاء ده چې نه رد کیږي.

**٦- د رمضان المبارک میاشت د فضیلتونو او برکتونو میاشت ده.** په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهَذَا حَدِيثُ أَبِي الْخَطَّابِ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَاتَ يَوْمٍ وَقَدْ أَهَلَّ رَمَضَانُ، فَقَالَ: «لَوْ يَعْلَمُ الْعِبَادُ مَا رَمَضَانُ لَتَمَنَّتْ أُمَّتِي أَنْ يَكُونَ السَّنَةَ كُلَّهَا). صحيح ابن خزيمة (٣ /١٩٠)

ترجمه:- ابو مسعود رضي الله عنه د نبي علیه السلام څخه حدیث نقلوي -داحدیث د ابو الخطاب دی هغه وایې چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې یوه ورځ د رمضان میاشت داخل شوی وه وفرمایل:که چیرې بندګان په دې پوهیدی چې په رمضـــان المبارک کې څومره برکتونه دي،خامخا ارمان به کړی ؤ زما امتي چې کاش ټول کال روژه وای.

**٧- رمضان المبارک هغه میاشت ده چې په دې میاشت کې د جنت دروازې بر سیره کیږي او د جهنم دروازې په کې تړل کیږي** او شـیطانان په کې تړل کیږي چې دا فضـیلت د کال بلی میاشـتې ته حاصـل نه دی. په یو متفق علیه حدیث شریف کې راځي، چې رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم فرمایلي دي: ( إِذَا دَخَلَ رَمَضَـانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتْ الشَّيَاطِينُ) متفق علیه

ترجمه:-کله چې د روژ میاشت داخله شي دجنت دروازې برسیره کړای شي او دجهنم دروازې بندې کړل شي او شیطانان په ځنزیرونو وتړل شي.

**٨- د رمضان المبارک میاشت د تقوا او پرهیزګارۍ میاشت ده.** کله چې نفس د الله تعالی د رضا لپاره او دهغه د عذاب له ویرې د الله تعالی اطاعت کوي، حتماً دحرامو څخه به هم پرهیز کوي . د بقرې سورت د روژې د فرضیت په فسلفه کې الله تعالی فرمایلي دي. (لعلکم تتقون) ترجمه:ترڅو تاسو پرهیزګاره شی.

په یو حدیث شریف کې راځي چې روژه د پرهیزګارۍ وسـیله ده: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ لَنَا رَسُـولُ اللَّهِ -صـلى الله عليه وسـلم-: يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنِ اسْـتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَـنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْـتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ ). صحيح مسلم (٤ /١٢٨)
ترجمه: له عبدالله بن مسـعود رضـی الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې مونږ ته رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم وفرمایل:ای ځوانانو! په تاســو کې چې هر یو د واده کولو توان لری، نو واده دې وکړئ، ځکه چې واده ډیر ښــکته کوونکی دی سـترګو لره او ډیر سـاتونکی دی فرج لره له زنا څخه او څوک چې د واده کولو توان نه لري په هغوی باندې لازم دي روژه نیول ؛ ځکه روژه قطع کوونکې ده شهوت لره.
**٩- د رمضـان المبارک میاشـت روژه د جهنم په مقابل کې ډال دی.** په یو حدیث شریف کې راځي، عثمان بن ابی العاص رضي الله عنه فرمایلي دي چې ما د ر سول الله صلی الله علیه و سلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل:( الصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنْ النَّارِ كَجُنَّةِ أَحَدِكُمْ مِنْ الْقِتَالِ). سنن النسائي الكبرى (٢ /٩٤)

روژه د جهنم له اور څخه داسې ډال دی لکه ستاسې ډال له جګړې څخه.

**۱۰- رمضان المبارک د روژې میاشت ده او روژه به په قیامت کې د روژه دار شفاعت کوي.** عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ :( الصِّيَامُ وَالْقُرْآنُ يَشْفَعَانِ لِلْعَبْدِ ، يَقُولُ الصِّيَامُ : رَبِّ إِنِّي مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِي فِيهِ ، وَيَقُولُ الْقُرْآنُ:مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّيْلِ فَيُشَفَّعَانِ).رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْحَاكِم

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: روژه او قرآن کریم به شفاعت کوي د بنده . روژه به وایې چې ای ربه زما! منع کړی ؤ مادا شخص د خوراک او شهوت څخه په ورځ کې پس ما شفاعت کوونکی وګرځوه دده په حق کې او قرآن کریم به وایې : ما منع کړی ؤ په شپه کې له خوب څخه . بیا به دواړه شفاعت کوونکي وګرځول شي.

**۱۱- رمضان المبارک د صبر میاشت ده.** ځکه مسلمان په ښځو او خوړلو ، په ولږه او تنده صبر کوي ، ځینې وخت بالخصوص د ګرمی په موسم کې سخت تږی کیږي خو صبر کوي او په اوږدو ورځو کې وږی کیږي خو صبر کوي؛ نو ځکه دي میاشتي ته په احادیثو کې د صبر میاشت ویل شوی ده. (عَنْ سَلْمَانَ قَالَ:خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي آخِرِ يَوْمٍ مِنْ شَعْبَانَ، فَقَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ أَظَلَّكُمْ شَهْرٌ عَظِيمٌ، شَهْرٌ مُبَارَكٌ، شَهْرٌ فِيهِ لَيْلَةٌ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ، جَعَلَ اللَّهُ صِيَامَهُ فَرِيضَةً، وَقِيَامَ لَيْلِهِ تَطَوُّعًا، مَنْ تَقَرَّبَ فِيهِ بِخَصْلَةٍ مِنَ الْخَيْرِ، كَانَ كَمَنْ أَدَّى فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَمَنْ أَدَّى فِيهِ فَرِيضَةً، كَانَ كَمَنْ أَدَّى سَبْعِينَ فَرِيضَةً فِيمَا سِوَاهُ، وَهُوَ شَهْرُ الصَّبْرِ، وَالصَّبْرُ ثَوَابُهُ الْجَنَّةُ، وَ شَهْرُ الْمُوَاسَاةِ، وَشَهْرٌ يَزْدَادُ فِيهِ رِزْقُ الْمُؤْمِنِ، مَنْ فَطَّرَ فِيهِ صَائِمًا كَانَ مَغْفِرَةً لِذُنُوبِهِ، وَعِتْقَ رَقَبَتِهِ مِنَ النَّارِ، وَكَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْتَقِصَ مِنْ أَجْرِهِ شَيْءٌ". قَالُوا: لَيْسَ كُلُّنَا نَجِدُ مَا يُفَطِّرُ الصَّائِمَ. فَقَالَ: يُعْطِي اللَّهُ هَذَا الثَّوَابَ مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى تَمْرَةٍ، أَوْ شَرْبَةِ مَاءٍ، أَوْ مَذْقَةِ لَبَنٍ، وَهُوَ شَهْرٌ أَوَّلُهُ رَحْمَةٌ، وَأَوْسَطُهُ مَغْفِرَةٌ، وَآخِرُهُ عِتْقٌ مِنَ النَّارِ، مَنْ خَفَّفَ عَنْ مَمْلُوكِهِ غَفَرَ اللَّهُ لَهُ، وَأَعْتَقَهُ مِنَ النَّارِ، وَا سْتَكْثِرُوا فِيهِ مِنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ: خَصْلَتَيْنِ تُرْضُونَ بِهِمَا رَبَّكُمْ، وَخَصْلَتَيْنِ لَا غِنًى بِكُمْ عَنْهُمَا، فَأَمَّا الْخَصْلَتَانِ اللَّتَانِ تُرْضُونَ بِهِمَا رَبَّكُمْ، فَشَهَادَةُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَتَسْتَغْفِرُونَهُ، وَأَمَّا اللَّتَانِ لَا غِنًى بِكُمْ عَنْهُمَا، فَتَسْأَلُونَ اللَّهَ الْجَنَّةَ، وَتَعُوذُونَ بِهِ مِنَ النَّارِ، وَمَنْ أَشْبَعَ فِيهِ صَائِمًا، سَقَاهُ اللَّهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ). صحیح ابن خزیمة ( ۲ /۹۱۱)

ترجمه:- د سلمان فارسي رضی الله عنه نه روایت دی چې د شعبان په وروستی ورځ کې رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یوه خطبه واوروله وه یي فرمایل: ای خلکو! تاسو باندې یوې عظیمې او له برکته ډکې میاشتې سیوری غوړولی دی یوه شپه (دقدرشپه )یې د زرو میاشتو نه غوره ده، الله جل جلاله ددغې میاشتې روژه فرض کړی ده، او په شپوکې خپل ذات ته قیام یې ( د تراویح لمونځ) نفلي عبادت ګرځولی ده (چی ثواب یې زیات دی) څوک چې په دې میاشت کې نفلي عبادت وکړي قصدیې د الهی رضا او قرب حاصلول وي، د نورو میاشتو د فرضي عباد تونو په کچه ثواب ورته رسیږي. او په دی میاشت کې د فرض اداء کول د نورو میاشتو د اویا فرضونو په اندازه ثواب لري. دغه میاشت د صبر میاشت ده او د صبر عوض جنت دی، د خوا خوږی او مواسات میاشت ده او دا همغه میاشت ده چې د مؤمنو بندګانو روزي پکې زیاتیږي. هر څوک چې په دی میاشت کوم روژه تي ته ( د ثواب او الهی رضا حاصلولو په موخه) روژه ماتی ورکړي ګناهونه یې ښنل کیږي او د دوزخ له اورنه آزادیږي. عرض وشو چې: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! او مونږکي هریو د روژه ماتی ورکولو وس نه لري ( نو آیا بی وزلي او مسکینان ددی ستر ثواب نه پاتیږي؟) هغه حضرت صلی الله علیه وسلم و فرمایل: الله جل جلاله دغه ثواب هغه چا ته هم ورکوي چی یوه خرما یا یو ګوټ اوبه اویا لږې شیدې کوم روژه تی ته په روژه ماتي کې ورکړي. (بیایې و فرمایل:) ددی میاشتې لومړی برخه رحمت ده او

منځنۍ برخه يې مغفرت ده او وروستی برخه يې د دوزخ داور نه خلاصون دی. (بيايې وفرمايل): او هرڅوک چې په دی مياشت کې د خپلو غلامانو او خادمانو کارونو کې کموالی او تخفيف راولي الله جل جلاله بی يې وبښي او له اور څخه به يې خلاص کړي. په دې مياشت کې دڅلورخبرو خيال وساتئ ، دوه خبرې داسې دي چې په هغې سره ستاسو رب راضي کيږي يوه د (أشهد أن لآاله الا الله) کلمه ويل دي، دوهم زيات استغفار ويل دي. دوه خبرې داسې دي چې ستاسو دهغې نه بغير چاره نشته چې يو دالله تعالی نه دجنت غوښتل دي او بل په الله تعالی باندې د جهنم له اور څخه پناه غوښتل دي او څوک چې روژه دار ته په مړه خيټه روژه ماتی ورکړ زما له حوض څخه به يې دا سې الله تعالی خړوب کړي چې جنت ته دداخليدو پوری به هيڅکله تږی نشي.

**۱۲-** د رمضان المبارک مياشت د ناکاره اخلاقو څخه د نفس دپاکولو او تزکيه کولو مياشت ده. په حديث شريف کې راځي: ( عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ ). صحيح البخاري (٤ /٥٧٨)

ترجمه:- د ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: څوک چې دروغ پرې نږدي او عمل کول په ګناه پرې نږدي ، نو الله تعالی ته ددې حاجت نشته چې (روژه دار) دې خوراک پريږدي او څښاک پريږدي.

**۱۳-** د رمضان المبارک مياشت د سخاوت او د قرآن کريم د تلاوت مياشت ده. په حديث شريف کې راځي: (عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ، فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:- د عبدالله ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم تر ټولو خلکو زيات سخي ؤ او زيات به سخي ؤ په رمضان کې هغه وخت چې د جبرائيل عليه السلام سره به مخامخ کيدلو په هره شپه د رمضان کې او ملاقات به يې کولو د جبرائيل عليه السلام په هره شپه د رمضان المبارک کې او تکرارولو به له پيغمبر عليه السلام سره قرآن کريم ،يقيناً ر سول الله صلی الله عليه و سلم په نيکۍ کې زيات سخي ؤ د تيز باد څخه زيات.

### د رمضان المبارک مياشتې اعمال:

داچې رمضان المبارک مياشت زيات فضيلت لري ، نو په دې مياشت کې نيک عملونه کول هم زيات ثواب لري .ځينې هغه نيک عملونه چې مسلمان يې د رمضان المبارک په مياشت کې وکړي په لاندې ډول دي:

**۱- روژه نيول:** درمضان المبارک دمياشتې مهم او ستر عمل په دې مياشت کې روژه نيول دي.د رمضان المبارک په مياشت کې روژه نيول پر هر مسلمان چې عاقل ، بالغ او مقيم وي فرض ده او د روژې اجر الله تعالی په خپله ورکوي. په يو قدسي حديث کې راځي نبي عليه السلام فرمايي چې الله تعالی فرمايلي دي: (الصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ؛ يَدَعُ شَهْوَتَهُ، وَأَكْلَهُ، وَشُرْبَهُ؛ مِنْ أَجْلِي). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:- روژه زما لپاره ده (يعني زه يې خوښه ګڼم) او زه به يې په خپله ثواب او عوض ورکوم ، (بنده) پريږدي خپل شهوت او خوراک او څښاک زما په خاطر.

په دې حديث کې د رمضــان المبارک روژې فضــيلت ته اشــاره ده ځکه چې د بندګانو خالق يې عوض په خپله روژه دار ته ورکوي او د نورو نيکو اعمالو عوض د ملائکو په توسط ورکول کيږي. حافظ ابن حجر ددې حديث په شرح کې وايي(لِأَنَّ الْكَرِيم إِذَا قَالَ : أَنَا أَتَوَلَّى الْإِعْطَاء بِنَفْسِي- كَانَ فِي ذَلِكَ إِشَـارَة إِلَى تَعْظِيم ذَلِكَ الْعَطَاء وَتَفْخِيمه). فتح الباري لابن حجر (٦/ ١٢٩)

ترجمه:- ځکه کله چې کريم او مالک ذات وواېي چې کله وواېي ددې کار عوض زه په خپل لاس ورکوم ، په دې کې اشاره وي د عوض عظمت ته او لوی والي ته.

په يو بل حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُــولُ اللَّهِ صَــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ مَنْ صَــامَ رَمَضَــانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ). متفق عليه

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رســول الله صــلى الله عليه وســلم فرمايلي دي: څوک چې روژه ونيسي د رمضان المبارک مياشتې د ايمان په بنا او د ثواب په نيت ، وبه بښل شي ده ته هغه چې مخکې تير شوي دي ده ګناهونه.

**٢- دوهم عمل چې بايد د رمضان المبارک په مياشت کې روژه دار يې وکړي هغه قيام الليل (تراويح) دی.**

د قيام الليل د فضـــيلت په باره کې الله تعالى فرمايي:( وَعِبَادُ الرَّحْمَنِ الَّذِينَ يَمْشُـــونَ عَلَى الأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلامًا . وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا). [الفرقان ٦٣ ـ ٦٤] .

ترجمه:- او د رحمن بنده ګان هغه دي چې په ځمکه ورو ګرځي او کله چې له دوی سره جاهلان خطاب (خبره) کوي (نو) دوی سالمه (درسته) خبره کوي او هغه کسان دي چې خپل رب ته شپه تېروي، په داسې حال کې چې سجده کوونکي او قيام کوونکي وي

دقيام الليل څخه مراد د کال په عامو شـپو کې د شـپې لمونځ کول او عبادت کول دي او د رمضـان المبارک په مياشـت کې ورڅخه تراويح مراد دي. قيام الليل د ر سول الله صلى الله عليه و سلم او د هغه د صحابه کرامو عمل دی او هغوی قيام الليل خصوصاً په رمضان المبارک کې نه پريښودلو.

(قَالَتْ عَائِشَــةُ رضى الله عنها لاَ تَدَعْ قِيَامَ اللَّيْلِ فَإِنَّ رَسُــولَ اللَّهِ -صــلى الله عليه وســلم- كَانَ لاَ يَدَعُهُ وَكَانَ إِذَا مَرِضَ أَوْ كَسِلَ صَلَّى قَاعِدًا). سنن أبى داود- (١ /٥٠٤)

ترجمه:- حضرت عائشه رضي الله عنها فرمايلي دي: قيام الليل مه پرېږده ، بيشکه ر سول الله صلى الله عليه و سلم به قيام الليل نه پريښوده، کله به چې مريض شو او يا به ستړی شو په ناسته به يې د قيام الليل لمونځ کولو.

د قيام الليل (تراويح) په اړه د ابوذر رضي الله عنه په حديث کې راځي چې نبي عليه الســـلام وفرمايل:( إِنَّهُ مَنْ قَامَ مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ). سنن الترمذي

بيشکه څوک چې دامام سره په روژه کې تراويح وکړي تر هغې پورې چې امام له لمانځه راوګرځي، وبه ليکل شي ده ته د ټولې شپې عبادت.

د عمر فاروق رضي الله عنه په زمانه کې به صحابه کرامو ډېرې اوږدې او طولاني تراويح کولی. د سائب بن يزيد په روايت کې راځي:( وَقَدْ كَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِينَ حَتَّى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعِصِيِّ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ وَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلَّا فِي فُرُوعِ الْفَجْرِ) موطأ مالك (٢ /١٥٩)

ترجمه:- قاري به په (تراويحو ) کې هغه سورتونه لوستل چې د آيتونو تعداد به يې له سلو څخه زيات ؤ، آن تر دې پورې چې مونږ به په امساګانو تکيه کوله او مونږ به نه فارغيدلو (له تراويح) څخه مګرنږدې سحر ته .

څوک چې د ورځې روژه ونيسي– بايد د شپې تراويح وکړي او په تراويح کې شرکت وکړي چې دا ډېر غوره عمل دی او درمضان المبارک د مياشتې داعمالو څخه دی.

**٣- خيرات او صدقات ورکول:** د رمضان المبارک د مياشتې بل نيک عمل هغه خيراتونه او صدقات ورکول دي او ددې عمل فضيلت په دې مياشت کې ددې امله دی چې په مياشت کې روژه غريب او سرمايه دار دواړه نيسي ،که چيرې مالداره او د توان خاوند خيرات او صدقات ورکړي نو د هغو غريبو او بې وسو خلکو روژه ماتی به هم خوندور وي لکه څرنګه چې د سرمايه دار او د توان دخاوندانو روژه ماتی خوندور وي. په رمضان المبارک مياشت کې خيرات او صدقات ورکولو لپاره غنا شرط نه ده چې ګوندې هغه سړی به خيرات او صدقات ورکوي چې زيات مال او شته ولري بلکې د متوسط اقتصاد خاوندان هم کولای شي هر څه چې دده په توان کې دي په خيرات او صدقاتو کې ورکړي . رسول الله صلی الله عليه وسلم به په رمضان المبارک مياشت کې د بل هر وخت څخه زيات سخا کوله او خيراتونه به يې ورکول. په حديث کې راځي:(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدَ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ، وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ، فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ) رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
په يو بل حديث کې راځي: (عَنْ أَنَسٍ قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الصَّوْمِ أَفْضَلُ بَعْدَ رَمَضَانَ؟ فَقَالَ: شَعْبَانُ لِتَعْظِيمِ رَمَضَانَ، قِيلَ: فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: صَدَقَةٌ فِي رَمَضَانَ). سنن الترمذي (٢ /٤٥)

ترجمه:- د انس رضی الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کومه روژه بهتره ده پس له رمضان څخه ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: د شعبان روژه بهتره ده د رمضان د تعظيم په خاطر. بيا يي وويل چې کومه صدقه بهتره ده؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: صدقه په رمضان المبارک کې بهتره ده.

په رمضان المبارک مياشت کې د خيرات او صدقاتو ورکولو دوه صورتونه دي يو داچې عامو خلکو ته خوراک او څښاک ورکول دي

او بل روژتي ته روژه ماتی تيارول دي.

د سلف صالحينو او ددين بزرګانو به د خيرات او صدقاتو په ورکولو باندې ډېر حرص کولو او دايې له ډېرو عباداتو څخه غوره ګڼل، برابره خبره ده چې هغه د وګې شخص مړول وي او که د يو صالح انسان ته دخوراک چمتو کول وي، په ډوډۍ ورکولو کې فقر شرط نه دی.په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّمَا مُؤْمِنٍ أَطْعَمَ مُؤْمِنًا عَلَى جُوعٍ أَطْعَمَهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ ثِمَارِ الجَنَّةِ، وَأَيُّمَا مُؤْمِنٍ سَقَى مُؤْمِنًا عَلَى ظَمَإٍ سَقَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنَ الرَّحِيقِ المَخْتُومِ). سنن الترمذي ( ٤ /٦٣٣)

ترجمه:- د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي : هر مؤمن چې بل مؤمن ته ډوډۍ ورکړه په ولږه نس باندې، ور به کړي ده ته الله تعالی په ورځ د قيامت دجنت له ميوو څخه او هر يو مؤمن چې بل مؤمن ته اوبه ورکړې په تنده کې ، څړوب به کړي ده لره الله تعالی په ورځ د قيامت کې د خالصو شرابو له جنت څخه چې د هغې د مصؤونيت لپاره خوله د لوخي بنده شوي وي په مسکو سره.

په يو بل حديث شريف کې راځي: په حديث شريف کې راځي: (عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ، غَيْرَ أَنَّهُ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الصَّائِمِ شَيْئًا).سنن الترمذي (٣ /١٦٢)

ترجمه:- د زيد بن خالد جهني ر ضی الله عنه څخه روايت دی چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: چاچې يو روژتي ته روژه ماتی ورکړ، وي به ده لره په همغه اندازه اجر، نه به کمبري د روژه دار له اجر څخه څه شی.

جعفر بن محمد بن علی رحمه الله وايي:(وعن أبي جعفر محمد بن علي قال: لأن أدعو عشرة من أصحابي فأطعمهم طعاماً يشتهونه أحب إلي من أن أعتق عشرة من ولد إسماعيل). اختيار الأولى للحافظ ابن رجب (ص: ١١)

د جعفر بن محمد بن علی رحمه الله وايي: داچې لس ملګري دعوت کړم اودوی ته داسې خوراک ورکړم چې اشتهايي لري دا ماته ډير غوره دی چې آزاد کړم لس کسان (غلامان) د اسماعيل عليه السلام له اولاد څخه.

ځينو سلفو علماوو او بزرګانو به دا غوره ګڼله چې بل ته روژه ماتی ورکړي، په داسې حال کې چې خپله به روژه ؤ او ددوی خدمت به يې کولو چې د هغوی له جملې څخه عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ، حســن البصرــي، عبدالله بن مبارک، داؤد طائي، مالک بن دينار او احمد بن حنبل، ؤ. عبدالله بن عمر رضي الله عنهما به روژه نه ماتوله مګر د يتيمانو او مسکينانو سره. اختيار الأولى(ص: ٧٩)

**۴- په رمضان المبارک مياشت د قرآن کريم تلاوت کول:** بل نيک عمل د رمضان المبارک په مياشت کې د قرآن کريم تلاوت کول دي ؛ځکه د رمضـان المبارک مياشـت ته د قرآن مياشـت ويل کيږي. جبرائيل عليه السـلام به په دې مياشـت کې د ر سول اکرم صلی الله عليه و سلم سره قرآن کريم تکرارولو، نو په کارده چې په دې مياشت کې قرآن کريم زيات تلاوت شي او صحابه کرامو ، تابعينو او تابع تابعينو به په رمضان المبارک مياشت کې قرآن کريم ته زياته توجه کوله.د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په باره کې راځي چې هغه به په يوه ورځ کې د قرآن کريم ختم کولو، ځينو به قرآن کريم په رمضــان کې په درې ورځو کې ختمولو، ځينو به په اوو(٧) ورځو کې ختمولو،. امام اســود نخعي رحمه الله په باره کې راځي چې هغه به په رمضـــان کې په دوه شـــپو کې قرآن کريم ختمولو. د امام زهري په حق کې راځي چې هغه به په رمضان کې د احاديثو څخه خپله توجه د قرآن کريم تلاوت ته او مصحف ته واړوله . د امام سفيان ثوري رح په باره کې راځي چې کله به رمضـان المبارک داخل شـو ، هغه به نور ټول عبادتونه پريښـودل او د قرآن کريم تلاوت ته به يې توجه واړوله.

حافظ ابن رجب رح وايي چې په عامو ورځو کې په دوامداره توګه د درې ورځو څخه په کمه موده کې د قرآن کريم ختمول مکروه دي ما سوا د رمضان المبارک دميا شتې څخه او د مکې مکرمې څخه ځکه په رمضان المبارک ميا شت کې او په مکه مکرمه کې د شرف د زمان او مکان له امله په دې کې زيات تلاوت کول مستحب دي . لطائف المعارف (ص: ١٨٣)

**۵- په رمضان المبارک کې زيات ذکر کول، دعاء او استغفار ويل:** د رمضان المبارک د اعمالو څخه بل عمل په دې مياشت کې زيات ذکر کول، زياتې دعاګانې کول او دايم استغفار ويل دي. خصوصا په لاندې وختونو کې : د روژه ماتي پر وخت دعاء او ذکر کول، د شپې په آخره حصه کې دعاګانې کول او استغفار ويل، ځکه دا هغه دی چې الله تعالی فرمايي آيا

څوک سوال کوونکی شته چې سوال یي قبول کړم، آیا څوک داستغفار ویونکی شته چې زه یې ګناهونه وبښم؟، په سحري وخت کې استغفار ویل لکه چې الله تعالی فرمایي:( وبالأسحار هم یستغفرون )،د جمعې په ورځ دعاګانې کول او استغفار ویل.

**٦- په رمضان المبارک کې عمره کول:** د رمضان المبارک د اعمالو څخه بل عمل په رمضان المبارک کې عمره کول دي. په رمضان المبارک میاشت کې عمره کول سنت او ډیر فضیلت لري. په حدیث شریف کې راځي ، عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یوې زنانه ته وفرمایل:(فَإِذَا جَاءَ رَمَضَانُ فَاعْتَمِرِى فَإِنَّ عُمْرَةً فِيهِ تَعْدِلُ حَجَّةً). صحیح مسلم( ٤ /٦١) کله چې رمضان راشي نو عمره کوه بیشکه په رمضان کې عمره برابره ده دحج کولو سره.

**٧- په رم ضان المبارک میا شت کې اعتکاف کول:** د رمضـان المبارک د میاشـتې د اعمالو څخه یو عمل په دې میاشـت کې اعتکاف کول دي خصوصا په آخري لسو ورځو کې اعتکاف کول.رسول الله صلی الله علیه وسلم به په هر یو رمضان کې په اخري لسو ورځوکې اعتکاف کولو او په کوم کال کې چې وفات کیدلو په دغه کال کې یې شل ورځې اعتکاف وکړ.

اعتکاف له دې امله زیات ثواب لري چې روژه دار ته په اعتکاف کې د عبادت لپاره ښـه فرصـت په لاس ورځي لکه لمونځ په جماعت سره او نور نفلي لمونځونه، د قرآن کریم تلاوت، ذکر کول،دعاګانې کول. د ټول لویو او وړو ګناهونو څخه په کې ځان سـاتل کیږي او د بې ځایه مجلسـونو او بې ځایه خبرو څخه په کې روژه دار په امان کې وي او یواځې توجه یې عبادت ته وي.

**٨- د لیلة القدر شپې لټون:** د رمضان المبارک د میا شتې بل عمل په رمضان المبارک کې د لیلة القدر شپې لټون دی، هغه شـپه چې د ددغې شـپې عبادت د زور میاشـتو د عبادت څخه غوره دی. د لیلة القدر دشـپې د فضـیلت په باره کې په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَـــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ).صحیح البخاري (٤ /٥٧٤)

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: څوک چې د لیلة القدر په شپه قیام وکړي د ایمان په بنا او د ثواب په نیت ، وبه بښل شي ده ته هغه چې تیر شوي دي دده له ګناهونو څخه.

رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم به خپله هم د لیلة القدر شـپه لټوله او صـحابه کرامو ته به یې هم امر کولو چې د لیلة القدر شپه ولټوئ او د رمضان المبارک په آخري لسو شپو کې به یې د کور اهل را ویښ کړل په دې امید چې د لیلة القدر شپې فضیلت به ترلاسه کړي.

د ځینو صحابه کرامو او تابعینو په باره کې راځي چې هغوی به د رمضان المبارک په اخري لسو شپو کې د لیلة القدر شپه لټوله او هغوی به ددې شپو لپاره غسل کولو او خوشبوی به یې پرځانونو لروله .